نیک هدایت ۲۰۱۲/۱۰/۰۸

# د هیواد د نجات لپاره وړاندیز

## د افغانستان ملي نجات لپاره په هیواد کي د ننه او بهر کي ټولو لیکوالانو، شاعرانو، پوهانو او د مختلفو غړیزو، تصویري رسنیو چلوونکو ته وړاندیز

که چیري د هیواد پنځه زره کلن تاریخ ته په خاصه توګه دري سوه کلن تاریخ او بیا زمونږ د سترګو لیدلئ د ۳۵ کالونو عیني تاریخ ته وکتل شي د کش مکشونو، اشغالونو څخه ډک او هم د یووالي اتحاد او د ملي ګټو څخه د دفاع غني تاریخ لري چه د ملي خلکو ولسونو ملي مشرانو د میراني سربنندني خدمت او سالمي رهبری تاریخ پاتي دي چه اوسنئ نسل او راتلونکي نسلونه به هم ور باندي ویاړیږي.

**اوس راځم اصل مطلب او زما وړاندیزته.**

که چیري د ۲۰۰۱ کال د ۱۱ سپتامبر د نیوپارک د پیښي را په دي خوا د ناتو او غیر له ناتو ۵۴ هیوادونو نظامي قوتونه د ۱۶۰۰۰۰عسکرو او مجهزه نظامي تجهیزاتو سره د تروریزم پرضد جنګ، ښه حکومت کولو، مخدره موادو له منځه تللو، ولسواکئ، بشري حقونو د کنترول او ښځو ته د خپلو حقونو ورکولو تر نوم لاندي افغانستان ته راغلل او ښاغلئ کرزئ بي د موقتي اداري مشر بیا انتقالي ور پسي انتخابي جمهوږ رئیس شو چه تر اوسه پوري دوولس کاله د ولسمشر وخت تیر شول چه یو څه کارونه وشول. هغه کار چه ډیر مهم دي ونه شو او نه بي اراده موجوده دي.

اختلاس، غصبول، جنایتونه په خپل قوت روان دي. په نوم اداري د اشخاصو افرادو د خاصو ډلو ټپلو لپاره جوړي دي د شیردل برویږدل بیا. . . د شطرنج لوبه دوام لري اهلکاره پرملي ګټو مینو کادري با احساسه خلکو ته د کار هیڅ چانس نشته. ملي پالیسي هیڅ نشته. د هیواد حالات د ناسالمي رهبرئ ضعیف ساز ګاره اداره له وجي هیواد د تباهئ پر لوږ روان دي. که هر څومره په دي اړوند خبري او لیکني وکړو، خلا نواقص، کمبودی، فساد، غصب او جنایتونه شته دي.

د بلي خوا په زرګونو افغاني نظامي او ملکي کادرونه د هیواد څخه بهر څه په هیواد کي د ننه زاره شول د دوي تجربو څخه د هیواد په دي حساسو شرایطو کي ګټه اخیستل په کار دي. وولس مشر د دوي ته د کار کولو دعوت ورکړي.

نو زما غوشتنه دا دي چه ټولي رسنئ، لیکوالان، شاعران، خیرونکي، پوهان د په یو ملي سراسري حدف لپاره سره یو او متحد شي، هر رنګه شخصي، قومي، ژبني، ډله ایز تعصوبونه پریږدي د افغانستان د ملي ګټو د خوندیتوب لپاره، د یو واحد مستقل افغانستان لپاره، د یوي سالمي کادري او ملي اداري د رامنځ کولو د پاره متحداً په یوخوله او یو سپیڅلي حدف لپاره، په دولت او رهبری کي د مثبت ریفورم لپاره، دولت او حکومت داد اړود ترمییم لپاره وولس مشر سره په ګډه خبري وکړي. ځکه دوولس کاله تیر شول وخت تیرشو. اوس لږ وخت شته چه باید ګټه ور څخه واخیستل شي.

ځکه انتقادونه پردي اوسني دولت هیڅ تاثیر نلري. یوازي د یو ملي حدف لپاره د ټولو رسنیو یووالئ او پیوستون زمونږ د کامیابئ ضمانت کوي. بل د ۲۰۱۴کال د ټاکنو د پاره د یو ملي کاري با احساسه شخصیت لپاره ګډ کار کول دي.

د هیواد اوسني تراژیدي حالت له مونږ دا غوښتنه کوي. هیله مند یم چه ګران لیکوالان، شاعران، پوهان او د مختلفو رسنیو چلوونکي که په هیواد کي د ننه، په اروپا، امریکا و یا استرالیا کي کار او فعالیت کوي زما د یو هیواد دوست په توګه زما د یووالي، همغږی وړاندیزقبول کړي یوازي د هیواد ملي ګټو لپاره کار وکړي. نو مونږ به خپل ځان د مسؤلیت څخه خلاص او تاریخي ویاړ به مو په برخه شي. لوي خداي د مونږ ته دي ملي او سپیڅلي حدف لپاره توان را په برخه کړي.

امین یارب العالمین.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ